شتمنه
SHTAMANAI

شنبه | ۲ شعبان ۱۴۴۳ / ۱۴ حوت ۱۴۰۰ | ۵ مارچ ۲۰۲۲ | سال اول | شماره ۱۵ | ٤ صفحه



نقش شرکت های دولتی در اقتصاد ملی ص ۴

# د ماليې وزارت سرپرست د طورخم له ګمرك او ترانزيټي چارو څخه ليدنه وکړه

د ماليې وزارت سرپرست الحاج ملا هدايت الله بدري، د افغانستان اسلامي امارت د رئيس الوزراء له لومړي مرستيال ملا عبدالغني برادر، سره په ملتيا طورخم ته سفر وکړ او هلته يې له ګمرك چارو او د ترانزيټ له مسؤلينو سره له نږدې ليدنه او خبرې وکړې.



د ماليې وزارت سرپرست الحاج ملا هدايت الله بدري، د افغانستان اسلامي امارت د رئيس الوزراء له لومړي مرستيال ملا عبدالغني برادر، سره په ملتيا طورخم ته سفر وکړ او هلته يې له ګمرك چارو او د ترانزيټ له مسؤلينو سره له نږدې ليدنه او خبرې وکړې.

د ماليې وزارت سرپرست، په دې ليدنه کې د طورخم ګمرك، ګمرکي چارو، دوه اړخيزه ترانزيټ او د مسافرينو د تګ راتګ ليدنه وکړه، ترڅنګ يې اړوندو مسؤلينو ته لارښوونه وکړه، چې له اصولو او مقرراتو سره سم له مراجعينو او مسافرينو سره نېك او غوره چلند وکړي، د ګمرك د شتمنيو او جايدادونو دې په کلکه ساتنه وکړي او د خدمتونو په وړاندې کولو کې دې سوداګرو او مراجعينو ته غوره اسانتياوې رامنځته کړي.

همدا شان د ماليې وزارت سرپرست، د سيمې د مسؤلينو، مسافرينو او سوداګرو ستونزې او وړانديزونه واورېدل او ژمنه يې ورسره وکړه، چې د دوی ستونزې به له لوړو پوړو چارواکو سره شريکوي ترڅو شته ستونزې هوارې او د امکاناتو او قوانينو په چوکاټ کې د حل لارې ورته ولټوي.

د ماليې وزارت سرپرست، مسافرينو او په ځانګړې ډول د ښځينه وو لپاره د اوداسه، لمانځه او تم ځای د جوړو شويو ځايونو پرانيستنه وکړه او ګټې اخيستنې ته يې و سپارل.

د يادونې وړده، چې د دې ليدنې په پای کې د ماليې وزارت سرپرست وزير د ننګرهار د ګمرګ رئيس او د هغه د مرستيال مولوي محمد داؤد ايوبي کارونه وستايل او د ښه او غوره کارو د کولو لپاره يې لازمې لارښوونې ورته وکړې.




سرمقاله

## پر اصنافو ټيټه ماليه هم هڅونه هم ځان بسياينه

په ټوله نړۍ کې پر اصنافو، شرکتونو، سوداګريو او نورو ورځنيو عايداتي چارو باندې دولت ته د ماليې ورکړه يو لازمي او ضروري امر دئ. د نړۍ ټول حکومتونه له خپلو ملتونو څخه ماليه راټولوي چې بيا ئې پر پراختيايي او عادي چارو لګوي. د هيڅ هيواد له خلکو څخه راټوله سوې ماليه د کوم وګړي شخصي جيب ته نه ځي بلکه بېرته د همغه هيواد په رغنيزو چارو او پرمختګونو لګول کېږي. افغانستان هم يو له هغو هيوادونو څخه دئ، چې ملت ئې ماليه ورکوي او حکومت ئې د ماليې ورکړې پر وړاندې مسؤليت لري، چې د رعيت د سهولت، رغنيزو چارو، معاشونو د ورکړې، ټولګټو پروژو، اقتصادي خوځښت او د هيواد د پراختيا او ځان بسياينې په موخه ولګوي. طبعي خبره ده، چې د نړۍ په هيوادونو کې د حکومتونو په تغيير د مالياتو راټولو، کمولو او يا هم زياتولو تګلاره تغيير مومي. د حکومتونو هڅه داوي؛ له هغو خلکو چې ماليه راټولوي اسانتياوي ورته برابري کړي، په ځينو استثنايي حالاتو کې جريمې ورته معاف کړي او همدا شان د ورځنيو شرايطو په ليدو سره ځيني کمښتونه پکښې راولي. بالمقابل ماليه ورکوونکي مکلف دي، چې خپلې ماليې پر خپل ټاکلي وخت دولت ته تسليم کړي، چې په دې سره هم ځان له جريمې ساتلای سي او هم د هيواد په بيا رغونه کې بنسټيز رول لوبولای سي. د افغانستان حکومتونو هم اصنافو او ماليه ورکوونکو ته د ماليو ورکولو په برخه کې وخت ناوخته اړيني اسانتياوي رامنځته کړي او جريمې ئې ورته معاف کړي. له ۱۳۹۰ مالي کال څخه مخکې کلونو مالياتي جريمې (۱۰۰٪) معاف سوي، له ۱۳۹۰ تر ۱۳۹۵ کال پوري ماليې (۵۰٪) او مالياتي جريمې (۱۰۰٪) معاف او له ۱۳۹۶ تر ۱۴۰۰ مالي کال پوري يوازي جريمې (۱۰۰٪) په هغه صورت کې معافېږي، چې ماليه ورکوونکي اصله معاليه د دولت خزانې ته وسپاري؛ خو د ۱۴۰۱ مالي کال لپاره د افغانستان اسلامي امارت له لوري د يوه ځانګړي حکم پر بنسټ په يوه نوې اقدام کې د همدې کال لپاره د مالياتو نورم (۰.۵٪) ټاکل سوی دئ، تر څو ماليه ورکوونکو ته د ماليې ورکړه اسانه، اطاعت مننه رامنځته او د ماليه ورکونکو د هڅوني لپاره نوی باب پرانيستل سي. د نوې نورم ټاکلو دليل اقتصادي او امنيتي وضعيت، د کرونا ناروغۍ ځپونکی حالت، د ډالرو او اجناسو د نرخ ښکته پورته کېدل او په ټوله کې د هيواد په ورځنيو اقتصادي چارو او اجناسو د لوړو قيمتونو او ترڅنګ ئې د خلکو کمزوری اقتصادي وضعيت ښوولی سوی دئ. د افغانستان اسلامي امارت پر خپلو عوايدو باندې د ځان بسياينې په موخه او د هيواد د اقتصادي وضعيت په پام کې نيولو سره تل هڅه کړې، چې ماليه ورکوونکو، سوداګرو، پانګوالو او خصوصي سکټور ته هر اړخيزي اسانتياوي رامنځ ته کړي، ترڅو ماليه ورکوونکي خپلې ماليې پر ټاکلي وخت دولت ته ورکړي او افغانستان د اقتصادي ځان بسياينې پر لور اوچت ګامونه پورته کړي. دا چې حکومت په بېلابېلو پړاوونو کې له ماليه ورکوونکو، سوداګرو، پانګوالو او خصوصي سکټور سره د دوی د وضعيت په ليدو سره هر راز همکاري کوي، نو حکومت ته هم د باور فضاء رامنځته کېږي، چې د ماليې په ورکړه او د خپل کور په ابادولو کې اوږه پر اوږه او ګام پر ګام د دې خاورې پرمختګ ته بډې راونغاړي، ځکه چې د ملت او حکومت ترمنځ همکاري لازمه او ملزومه او د افغانستان د رغولو مشترك هدف لري.

## اخبار مهم هفته




کنفرانس ملی سکتور خصوصی افغانستان برای سال ۱۴۰۱ دایر گردید

ص ۲



د مرکزي سيلو دولتي شرکت خپل فعاليتونه بيا پيل کړل

ص ۲



د ماليې وزارت د رهبرۍ نوبتي ناسته ترسره سوه

ص ۲



Certificates awarded to newly appointed employees of the Ministry of Finance graduated from the familiarization with administrative affairs program

ص ٤

SHTAMANAI

## د امریکا د خزانه داری (مالیې) وزارت د ۲۰گڼي عمومي جواز په تړاو د افغانستان د مالیې وزارت اعلامیه!



د امریکا متحده ایالتونو د خزاني(مالیې) وزارت سره د افغانستان د مالیې وزارت، بهرنیو چارو وزارت او د افغانستان مرکزي بانك رهبری د پرله پسې او دوامداره هڅو په پایله کې د ۲۰۲۲ کال فبروری په ۲۵مه نېټه د پراختیایي، سوداګریزو او بانکداری د فعالیتونو اسانولو لپاره د ۲۰مې ګڼې عمومي جواز صادر کړ، چې لاندني موارد پکښې شامل دي:

- له ټولو دولتي ادارو سره تعامل او همکاري؛

- د مؤسسو، نړیوالو پراختیایي سازمانونو او همکارو هیوادونو لپاره (له بودیجې بهر) د پراختیایي پروژو د فعالیتونو جواز، چې په ځمکني او هوايي سکټور کې د لېږد را لېږد، د زېربناوو پراختیا او لویو لارو حفظ او مراقبت، اوبو رسوني، برېښنا او انرژۍ او نور ګڼ عامه فعالیتونه پکښې شامل دي.

- حکومتي ادارو ته د مالیو، ګمرکي محصول، خدمتونو فیس او د جوازونو فیس ورکړه او نور چې پر تمویلوونکو د فعالیتونو او بهرنیو او کورنیو پانګونو مخنیوی رفع کوي.

- له ټولو هیوادونو څخه افغانستان ته بانکي لېږد او د دې بر عکس؛

- سوداګریزي معاملې، چې افغانستان ته واردات او بهر ته صادرات پکښې شامل دي؛

- په افغانستان کې د اقتصادي فعالیتونو د پیاوړتیا په موخه مالي او تخنیکي خدمتونه؛

- د پوستې فعالیتونو، پارسل او الکترونیکي مکالمو خدمتونو جواز؛

د افغانستان اسلامي امارت د امریکا متحده ایالتونو د خزانه دارۍ (مالیې) وزارت له دې اقدام څخه چې د یوه مثبت بدلون څرګندویي کوي مننه کوي او هیله مند دئ، چې د امریکا متحده ایالتونه د لا ډېرو اسانتیاوو، شته بندیزونو د له منځه وړلو او د افغانستان مرکزي بانك د کنګل سویو پیسو د آزادولو په برخه کې هم ورته اقدام وکړي.

# کنفرانس ملی سکتور خصوصی افغانستان به منظور ارزیابی چالش ها، فرصت ها و تعیین اولویت های این سکتور برای سال ۱۴۰۱ دایر گردید




کنفرانس ملی سکتور خصوصی افغانستان به منظور ارزیابی چالش ها، فرصت ها و تعیین اولویت های این سکتور برای سال ۱۴۰۱ هـ.ش در هوتل کابل سرینا دایر گردید.
در این کنفرانس الحاج ملا عبدالغنی برادر، معاون اقتصادی رییس الوزراء امارت اسلامی افغانستان، الحاج ملا هدایت الله بدری، وزیرمالیه، نورالدین عزیزی، وزیر صنعت و تجارت، الحاج محمد یونس مومند، معاون اول هیئت مدیره اتاق تجارت و صنایع، حاجی محمد ادریس، رییس عمومی د افغانستان بانک و شماری از تجار و صرافان کشور اشتراک کرده بودند.
این کنفرانس با تلاوت آیات از قرآن مجید آغاز گردید، الحاج محمد یونس مومند، ضمن خوش آمدید به اشتراک کنندگان گفت، کنفرانس امروزی برای بررسی فعالیت های سکتور خصوصی در شش ماه گذشته، چالش ها، فرصت ها فراروی این سکتور راه اندازی گردیده است. وی همچنان افزود که این کنفرانس زمینه را مساعد می سازد تا مشکلات و چالش های اتاق تجارت و صنایع با رهبری امارت اسلامی از نزدیک شریک ساخته شده و اقدامات لازم برای راه حل آن ارائه گردد.
ملا عبدالغنی برادر، معاون اقتصادی رهبری حکومت گفت، خوشحال هستم که با شما تجار از نزدیک می بینم، قبلاً مردم کشور از نا امنی، فساد و بی عدالتی رنج می بردند، اما اکنون با نصرت الهی که امارت اسلامی افغانستان روی کار آمد دامن فساد و بی عدالتی برچیده شده و امنیت در کشور حکمفرما گردیده، زمینه سرمایه گذاری فراهم است. از تجار و سرمایه گذاران می خواهیم که بیایند در داخل کشور سرمایه گذاری نمایند و باعث رشد اقتصادی و نجات مردم از فقر گردند.
سپس، الحاج ملا هدایت الله بدری، وزیر مالیه گفت، ما تلاش نمودیم به مشکلات سکتور خصوصی رسیدگی نموده و چالش های فراروی سکتور خصوصی از طریق هماهنگی با نمایندگان این سکتور و ارگان ها مربوطه را مرفوع نماییم. وی افزود که وزارت مالیه کوشش می کند تمام بنادر را معیاری ساخته، برای تجار و صنعت کاران افغان، با عرضهٔ خدمات معیاری و حل مشکلات سهولت های بیشتری برای آنها فراهم سازیم.
بعداً نمایندگان سکتور خصوصی مشکلات و چالش های موجود را با اشتراک کننده شریک ساخته و پیشنهادات شان را برای رشد و تقویت سکتور خصوصی و عرضه خدمات بهتر به هموطنان ارائه نمودند.
همچنان در این کنفرانس سکتور۸گروپ کاری (سکتور بانکداری و خدمات مالی، سکتور صنعت و معدن، سکتور صحت، سکتور تجارت و ترانسپورت ، سکتور زارعت، سکتور زنان متشبث، سکتور تحصیلات عالی خصوصی و سکتور صنایع دستی و قالین) در رابطه به چالش ها و پیشنهادات و تعیین اولویت های به بحث و تبادل نظر پرداخته و یک پریزنتیشن ارائه گردید.
قابل یاد آوریست که در این کنفرانس به الحاج ملا عبدالغنی برادر و الحاج ملا هدایت الله بدری به پاس خدمات و همکاری شان نشان عالی اتاق تجارت و صنایع و لوح تقدیر اهدا گردید.



# د مالیې وزارت د رهبرۍ نوبتي ناسته ترسره سوه

د مالیې وزیر الحاج ملا هدایت الله بدري، په مشرۍ د مالیې وزارت د رهبرۍ نوبتي ناسته، چې د یاد وزارت یو شمېر رئیسانو او مسؤلینو هم ګډون درلود، د قران عظیم الشان د مبارکو ایاتونو په تلاوت پیل او ترسره سوه.
د ناستې په پیل کې د اړوندو مسؤلینو له لوري، ګډونوالو ته لومړۍ د تېرو ناستو د پرمختګونو، پرېکړو او لاسته راوړنو بشپړ راپور وړاندې او ورپسې د کابینې د ۲۱/۶/۱۴۴۳ نېټې، ۲۰مې مصوبې د اجنډا له مخې د مالیې وزارت رهبرۍ د هدایت پر بنسټ د هیواد په لیرې پرتو سیمو کې دولتي مامورینو ته چې په بانکي حسابونو کې یې ستونزه ده د معتمد پر واسطه د معاشونو د ورکړې، د عوایدو عالي شورا او ولایتي کمېټو د بیا احیاء غوښتنې، د اصنافو د مالیې نورم کمېدلو او جریمو د معافیت پرانیست غونډې پر پرانیستلو او یو شمېر نورو اړوندو مسایلو په تړاو بحث او د نظرونو تبادله وسوه.
د مالیې وزیر الحاج ملا هدایت الله بدري، د تېرو ناستو د لاسته راوړنو او پرمختګونو ته د خوښۍ ترڅنګ وویل، چې په اړوندو برخو کې دې یو ګډ کمېسیون جوړ سي، ترڅو د کارونو او فعالیتونو ارزونه وکړي او د فعالیتونو او تکنیو فعالیتونو په هکله ډاډ ترلاسه کړي.
دا راز د خزاینو، مالي او اداري او د عوایدو د انسجام او همغږۍ ریاستونو ته دنده وسپارل سوه، ترڅو په هغو اولسوالیو کې چې بانکي خدمتونو ته د مالیې وزارت د کارکوونکو لاسرسی محدود دی کره معلومات ترلاسه کړي، چې څنګه کولای سو د دوی د معاشاتو ورکړه تر سره کړو او تر څنګ یې د عوایدو عالي شورا او ولایتي کمېټو د بیا احیاء په ګټو او زیانونو پلټنه وکړي، چې فعالول یې زیانمن که ګټور دي.
همداشان د دولتي شرکتونو له عمومي ریاست څخه وغوښتل سول، ترڅو یوه کړنلاره جوړه کړي چې طلبات یې زیات او په دې برخه کې لا نور هم چټک ګامونه پورته کړي.
د ناستې په پای کې پرېکړه وسوه، چې د دغې ناستې بشپړ راپور او پرمختګونه دې په راتلونکو ناستو کې په ډاګه او پایلې دې شریکې کړای سي.



شتمنه
SHTAMANAI

# د مرکزي سیلو دولتي شرکت خپل فعالیتونه بیا پیل کړل



د مرکزي سیلو دولتي شرکت د مالیې وزارت په همکارۍ، همغږۍ او نظارت خپل فعالیتونه له څو کلونو ځنډ وروسته بیا پیل کړل.

دغه شرکت د غنمو د ذخیرې او پروسس، د اوړو تولید او د وچې ډوډۍ بېلابېل ډولونه، ناشتا، روټ او کُلچې د چمتو کولو په برخه کې فعالیت کوي او خپل محصولات د کابل ښار په بېلابېلو سیمو کې د ۳۳ فعال غرفو له لارې په مناسبه بیه او غوره کیفیت هېوادوالو ته وړاندې کوي.

د مرکزي سیلو دولتي شرکت د ریاست سرپرست، انجینر خیال محمد په خپلو خبرو کې وویل، د دغه ادارې د کارکوونکو شمېر ۱۳۰ کسانو رسېږي، چې څو تنه ښځې هم، چې د ډوډۍ پخولو مهارتونه لري پکې شاملې دي. نوموړي وویل، اوس مهال یوازې یو داش فعال دی، چې په ورځ ۶۰۰ څخه تر ۱۰۰۰ دانې ډوډۍ چمتو او ښاریانو ته وړاندې کولای شي، همدارنګه موږ له وارداتي غنمو څخه هم ګټه پورته کوو، خو په راتلونکي کې دا پلان لرو، چې خپل ظرفیت لوړ کړو او له خپلو وطني غنمو ګټه واخلو.

نوموړي زیاته کړه، چې د دغه شرکت د بیا ځلي فعالېدو سره سم کولای شو، چې هر کال تقریباً ۳۵ میلیونه (اساسي او غیر اساسي) عواید ترلاسه او له دغه لاسته راغلو عوایدو څخه هر کال ۸ میلیونه خالصه ګټه د دولت بودیجې ته ور اضافه کړو.

=موږ هڅه کوو، چې د دولتي اداراتو د اړتیا پوره کولو، خلکو د کاري فرصت برابرولو او د دولت د عوایدو د لوړوالي په موخه د دغه شرکت ظرفیت لا لوړ کړو.



# شرکت دولتی پنبه و روغن نباتی بلخ مجدداً به فعالیت آغاز کرد



شرکت دولتی پنبه و روغن نباتی بلخ پس از مدت طولانی به همکاری وزارت مالیه دوباره به فعالیت آغاز کرد.

در مراسم افتتاح فعالیت شرکت مذکور رضوان الله اساس، نماینده وزارت مالیه، فریدون ژمن، سرپرست شرکت دولتی پنبه و روغن نباتی بلخ، کمیته اجراییه و شماری از کارکنان و کارگران اشتراك داشتند.

در این مراسم، رهبری شرکت پنبه و روغن نباتی بلخ برای هموطنان و دهاقین وعده سپردند که پس ازین درقسمت رشد و تقویه زراعت کشور با دهاقین همکاری همه جانبه خواهند کرد. وی به ایشان اطمینان داد تا تولیدات با کیفیت و مفید را با کمترین قیمت عرضه نمایند.

همچنان چرخ فابریکه تیل کشی شرکت پنبه و روغن نباتی بلخ توسط رضوان الله اساس، نماینده وزارت مالیه و فریدون ژمن، سرپرست شرکت به دوران آمد و یکبار دیگر شرکت دولتی پنبه و روغن نباتی بلخ (جن و پرس بلخ) به خدمت همشهریان شهر مزارشریف قرار گرفت.





## پر عایداتو باندي د مالیاتو قانون

**د مالیاتو نه تابع عایدات**

**څوارلسمه ماده :**

لاندي ترلاسه سوي مبالغ پر عایداتو دمالیاتو تابع نه دي، دحقیقي او حکمي اشخاصو په اظهارلیك كي نه شاملیږي.

۱. دحکومت لخوا بخشش،تحفي، انعامونه، جائزې او مکافات چي د بهرنیو دولتونو، نړیوالو مؤسسو یا غیرانتفاعي مؤسسو لخوا دعلمي، هنري، ادبي فعالیتونو، ټولنیز پرمختګ او نړیوال تفاهم دتقدیرولو په منظور ورکول کیږي، ۲. د معلوماتو د زیاتیدو یا د مسلکي او فني کفایت او ښودنو د اصلاح اوترقۍ په منظور سکالرشیپونه، فیلوشیپونه اونورې مرستې، ۳. د صحي او ټکر (تصادم) له بیمې اودبیکارۍ دبیمې له ګټوڅخه عاید، ۴. د ژوند له بیمې څخه عاید چي له مړیني وروسته ورکول کیږي، ۵. له ټپ، ناروغۍ یا دحیثیت له اعادې څخه دراپیدا سوو زیانونو غرامات یا تلافي،۶. استقراض، ۷. د شرکتونو په واسطه د ونډې دسندونو او د پور(قرضې) د سندونو له صادرولوڅخه لاسته پر راغلو عایداتوباندي دمالیاتوقانون ۱۴ ماده د هغو عوایدو په اړه حکم کوي چي له ناخالصو عوایدو څخه جلا ګڼل سوي دي .که چیري عواید په څرګند ډول جلا سوي نه وي نو په عادي عوایدو كي شاملیږي.

هغه مرستي، سوغاتونه او جایزې په تادیاتوكي نه شاملیږي چي د دندي د ترسره کولو په وخت کي د خدمتونوپه بدل کي د دولت لخوا كاركونكو ته ورکول کیږي.

مرستي، سوغاتونه اوجایزې په ښه ډول د دندو او غیرمعمولوخدمتونو د ترسره کولوپه بدل کي اویا دلاسته راوړنو څخه د ستاینې په موخه او په نورو ځانګړو حالاتو کي ورکول کیږي.

پورتنۍ یادي سوي مرستي، سوغاتونه اوجایزې د کارکوونکو د زیار ایستني او یا دهغوئ دښو لاسته راوړنو د ستاینې په بدل کي ورکول کیږي.

کلني بخششونه، اضافه کاري، بیا ورکړه (پس پرداخت) او نوري هغه ګټي چي یوه کارکوونکي ته ورکول کیږي، د لاسته راوړونکي د مالیې وړعوایدو یوه برخه ګڼل کیږي.

یوه کورنۍ چي د یوې پیښي له امله زیانمنه سوې ده له دولت څخه ۵۰۰۰ افغانۍ مرسته ترلاسه کوي. دغه ۵۰۰۰ افغانۍ د نوموړې کورنۍ د هېڅ یوه غړي په مالیې وړعوایدو كي نه شاملیږي. هغه مرستي او بخششونه چي دکورنیو او بهرنیو نهادونو لخوا ورکول کیږي دمالیې وړ نه دي.

له تحصیلي بورسونو او فیلوشیپونو او یا له مسلکي او تخنیکي روزنیزو پروګرامونو څخه لاسته راغلي ټولي پیسې له مالیې څخه معاف دي ځکه دغه پیسې یوازې د سفر، استوګنځي، ښووني فیس ،کتابونو او نورو لګښتونو لپاره ورکول کیږي. د یوه شخص هغه مبلغ چي دبیمې له شرکتونو څخه یې د زیانونو، مصیبتونو او ناروغیو له کبله یې د خپلي بیمې په بدل کي لاسته راوړي دي دمالیې تابع نه دي . د هغه بیمه سوي شخص لاسته راغلی مبلغ چي د هغهٔ د مرګ څخه وروسته ترلاسه کیږي او پخوا یې د ژوند بیمه لرله ، له مالیې څخه معاف دي.

هغه مبلغ چي د شخصي ټپونو، ناروغیو او یا نورو مصیبتونو په بدل کي تادیه کیږي د مالیې وړنه دې. د پور له درکه لاسته راغلي عواید د مالیې وړ نه دي . هغه عواید چي د یو شرکت لخوا دپور د سند له پلور اویا د ونډې دسند د صادرولو له درکه لاسته راځي، د مالیې وړ نه دي.

که چیري د پور د اسنادو له ارزښت څخه ډیري پیسې ترلاسه کړل سي ، لاسته راغلي اضافي مبلغ د مالیې وړ تابع دي. که چیري د پور اسناد د هغو د بازار له ارزښت څخه په ټیټه بیه وپلورل سي ، د نوموړو اسنادو په ارزښت کي دغه راغلی کمښت د مجرایي وړلګښت په توګه ګڼل کیږي. اضافي لاسته راغلی مبلغ چي د اضافي قیمت په نامه هم نومول کیدای سي ، د پور داسنادو په د وران کي دټکتاني دکمښت سبب ګرځي په داسي حال کي چي د پور د اسنادو په د وران کي دغه کمښت د اضافي ټکتاني سبب ګرځي. ډېرښت او کمښت باید د پور دسند د معیاد (ټاکل سوی وخت دپور د سند د صادرلو نه پیل دبیا پیریدني تر تاریخ پوري اساس و ټاکل سي.

هغه شتمني چي د شراکتونو او ونډه لرونکو له مدغم کېدو څخه لاسته راځي هغه وخت د مالیې تابع نه ګرځي،چي له لاندې شرایطو سره سمون ولري : أ. د ۱۳۳۴ لمریز کال دسوداګرۍ قانون اویا دکوم بل قانون له مخي پورتنۍ معامله هغه وخت دمدغم سوي معاملې په توګه ګڼل کیږي چي د مدغم سوي شرکت ونډه لرونکي نوي تأسیس سوي شرکت ته انتقال کړل سي.

ب. کیدای سي یو افغان مېشت شخص دونډې اسناد اویا خپله نوره شتمني یو سهامي اویا یومحدودالمسؤلیت شرکت ته په دې شرط انتقال کړي چي له انتقال څخه وروسته ٪ ۵ ونډه او یا دونډي نور ډېر اسناد ولري . نو د ونډې اسناد باید د ونډې د ارزښت او د رایه ورکولو د صلاحیت له نظره وټاکل سي.

هغه مبلغ چي پور ورکوونکی یې د تادیه سوي مبلغ په بدل کي له پوروړي څخه ترلاسه کوي د عوایدو په توګه نه ګڼل کیږي او پرعایداتو باندي د مالیاتو تابع نه ګرځي. د مستاجر لخوا مالك ته د ورکړل سوي مالي اجارې د اجارې وړ شتمنۍ په بیه د پانګې اصلي مبلغ څرګندوي او د مالك د مالیې وړ عواید نه ګڼل کیږي.

هغه ټکتانه چي په افغانستان کي د حکومت یا ښاروالیو لخوا د پور د اسنادو له کبله ورکول کیږي پرته له دې چي آیا د انفرادي شخص (افغان یا بهرني) د سهامي او یا محدودالمسؤلیت شرکت کورني یا بهرني لخوا ترلاسه کیږي، له مالیې څخه معاف دي.

SHTAMANAI

## Certificates awarded to newly appointed employees of the Ministry of Finance graduated from the familiarization with administrative



The Department of Training and Capacity Building of the Human Resources of the Ministry of Finance awarded certificates to the graduates of the program for familiarization of new employees with administrative affairs and behavior during a ceremony today.
The ceremony, which was held at the Customs Academy attended by head of the training and capacity building of the Human Resources Department of the Ministry of Finance, head of Afghan National Customs Academy, and a number of employees of this department.
The three-day program (familiarization with the new ۵۳ administrative affairs) was conducted for employees. In this program, in addition to computer programs, the history, views and goals of the Ministry of Finance, familiarity with the duties and responsibilities of key departments of the Ministry; regulations and evaluation of the performance of civil servants and tax laws were taught.
At the closing ceremony, the head of training and capacity building of human resources department, while wishing success to the newly appointed employees, said that professional attitude is one of the basic issues for the employees of this office and they should always observe professional standards in dealing with clients.
The head of the Afghan National Customs Academy, in turn, congratulated the success of the newly appointed employees in various departments and asked them to perform their duties with diligence, commitment to duty and a sense of patriotism.
The head of the Afghan National Customs Academy, in turn, congratulated the success of the newly appointed employees in various departments and asked them to perform their duties with diligence, commitment to duty and a sense of patriotism.

## نقش شرکت های دولتی در اقتصاد ملی





نظر محمد «تابع»

**امارت اسلامی افغانستان مصمم است تا به اساس دیدگاه کلان شرکت های دولتی را به صورت تدریجی احیا و مجدداً از طرق و شیوه های مدیریت مرکزی و همکاری وزارت مالیه با پشتوانه مکمل دولت و سکتور خصوصی به رشد پایدار ملی و اشتغال زایی و خود کفایی مالی نقش بزرگ خویش را بر مبنای اقتصاد اسلامی گامهای موثر را تعقیب خواهند نمود.**

تعریف:

شرکت دولتی به آنعده از شرکت های گفته می شود که دارای شخصیت جداگانه از مالکان سهام آن است و مطابق احکام قانون شرکت های دولتی تأسیس، دارای سرمایه مشخص و منقسم به سهام می باشد، مسئولیت هر سهامدار محدود به اندازه سهم وی می باشد و مالکیت حد اقل بیست و پنج ۲۵ درصد مربوط یکی از ادارات دولتی به شمول ادارات محلی باشد یا زمانیکه ادارات دولتی به شمول ادارات دولتی محلی بدون درنظرداشت سهم آنها در سرمایه شرکت بالای شرکت کنترول داشته باشند.

نخستین تصدی افغانستان مطابع آزادی می باشد که در عهد امیر شیرعلی خان در سال ۱۲۹۰ تاسیس گردید که اخبار شمس النهار را به شکل لیتوگرافی (چاپ سنگی) به نشر می رسانید. که بعدها فعالیت تصدی ها در بخش های مختلف تسری پیدا نموده و آرام آرام توسعه و گسترش یافتند. در سال ۱۳۵۴ در زمان داود خان رییس جمهور وقت افغانستان، قانون تصدی های دولتی نافذ گردید و برخی نهادهای انتفاعی که قبلاً تاسیس شده بودند، به تصدی دولتی مبدل گردیدند. تصدی ها بعد از این زمان، دوران شکوفایی و رشد خویش را می پیمودند و گفته می شود که قبل از جنگ های داخلی عواید تصدی ها در حدود ٤۰ درصد درآمد های عواید شان در تکمیل بودجه دولت وقت شامل می گردید اما در سال های اخیر به دلیل نبود توجه و نداشتن استراتیژی مشخص در این بخش، سهم تصدی ها و شرکت های دولتی کمرنگ شده و به کمتر از یک درصد کاهش یافته است. (نیازمندی منبع)

با شروع جنگ های داخلی اکثراً زیرساخت های تولیدی و اقتصادی افغانستان ویران گردید، تصدی ها و شرکت های دولتی نیز از اثرات این جنگ ها به دور نمانده و ضربه های سنگینی بر پیکر این بخش ها وارد شد و چرخه فعالیت های اکثریت آنها به رکود مواجه گردید.

در سال ۱۳۹۷ قانون تصدیهای دولت تعدیل و قانون شرکتهای دولتی از طرف کابینه تائید. و بتاسی آن عموماً تصدیهای دولت به شرکت های دولتی تغییر شخصیت حقوقی نموده و اساسنامه های شان از طریق وزارت محترم عدلیه طی مراحل گردیده است.

اقتصادي میان کشور ها شکل مي گیرد که همین منافع مشترك همكاري هاي منطقه اي را افزایش مي دهد و همگرایي و همسویي را تقویت مي کند جهت احیای کامل اکنون امارت اسلامی افغانستان مصمم است تا به اساس دیدگاه کلان شرکت های دولتی را به صورت تدریجی احیا و مجدداً از طرق و شیوه های مدیریت مرکزی و همکاری وزارت مالیه با پشتوانه مکمل دولت و سکتور خصوصی به رشد پایدار ملی و اشتغال زایی و خود کفایی مالی نقش بزرگ خویش را بر مبنای اقتصاد اسلامی گامهای موثر را تعقیب خواهند نمود. در این راستا از قانون تصدیها و قانون شرکت های دولتی که فعلاً نافذ بوده . استفاده خواهد گردید دولت می تواند سایر شرکتها و تصدیها را مطابق به ضرورت های جامعه و رشد اقتصادی به شیوه سهل (تدارک سرمایه) ایجاد نماید. و همچنان تلاش ها در جریان است تا شرکت های دولتی دوباره احیا شوند و این بخش مهم به یک چشمه بزرگ عایداتی به کشور مبدل و بخشی از مفاد شان را به خزانه ی دولت واریز کنند.

همانطوریکه یادآور شدیم یکی از چالش های بزرگ در سال های قبلی نبود استراتیژی مشخص در زمینه احیای شرکت های دولتی و همآهنگی وضعیت میان وزارت مالیه و شرکت های دولتی بود، که با روی کار آمدن نظام جدید در کشور همآهنگی خوبی میان وزارت مالیه و شرکت های دولتی به میان آمده است و پلان منظم روی دست گرفته شده است تا به اساس آن در نخست تمام دارائی های موجود شرکت های دولتی از نگاه منابع بشری، سرمایه و پول و جایدادها بررسی گردند و بعداً به اساس آن اصلاحات تدریجی در شرکت های تطبیق گردند تا این شرکت ها بتوانند به عنوان یک چشمه عایداتی جدید به بودجه ملی کشور کماکان کمک نمایند.

## د کسب کارانو او هټي والو د ملاتړ په خاطر مشورتي غونډه ترسره سوه

د ماليې وزارت له لوري د کسب کارانو او د دوکاندارانو څخه د ملاتړ په پار مشورتي غونډه د ماليې وزارت په خيبر هال (صالون) کې ترسره سوه.

په دغه غونډه کي، چې د قرآن عظیم الشان د سپېڅلیو ایاتونو په تلاوت پیل سوه، د گمرکونو او عوایدو معین الحاج ملا محمد ناصر اخند، د عوایدو لوی رئیس معراج محمد معراج، د کسب کارانو او هټۍ والو د خوني رئیس نورالحق عمري او یو شمېر کسب کارانو او دوکاندارانو گډون کړی وو.

په دغه مشورتي غونډه کي د عوایدو د راټولولو په برخه کي د یو منظم سیستم پر جوړولو او د غیر رسمي اقتصاد څخه رسمي اقتصاد ته په راگرځېدلو هر اړخیز بحث وسو او همدا راز د کسب کارانو ستونزي، نظرونه او وړاندیزونه واورېدل سول او د حل پر لارو چارو خبري وسوې.

د یادونې وړ ده، چې کسب کارانو او هټۍ والو د مالیاتو د راټولو په برخه کي له اسلامي امارت سره د پوره همکارۍ ژمنه وکړه او غونډه د دعا په ویلو سره پای ته ورسېده.



د امتیاز خاوند: د ماليې وزارت
مسؤل مدیر: احمد ولي حقمل
مرستیال: محمد نبي سلطاني
کتنپلاوی: اجمل زاهد او محمد ابراهیم گران
د خبر مدیر: داود نظري
خبریال :سید مصطفی سروش
جمع آوری معلومات: محمد افضل الکوزی
عکاس: فضل احمد یوسفزی
ډیزاینر: محمد نسیم ظهوري
د ماليې وزارت نشرات په لاندي آدرسونو کتلای سئ:
ویبپاڼه: mof.gov.af
ټویټر: afghanistanmof@
یوټیوب: afghanistan mof

هفته نامه شتمنی پذیرای مقالات تمام همکاران عزیز ما در داخل و خارج از وزارت مالیه می باشد. مقالات باید اقتصادی و مرتبط به وزارت مالیه باشد.
از تمام همکاران عزیز و قلم بدستان کشور خواهشمندیم تا مقالات شان را با ما از طریق ایمیل آدرس magazine@mof.gov.af شریک نمایند.